ارشاد نبوی

کسیکه در انجام عمل نیك رضا و خوشنودي خداوند"ج" را به ناخوشنودي مردم ترجیح بدهد خداوند تعالی ضمانت او را از شر مردم میکند و کسیکه خوشنودي مردم را در ناخوشنودي خداوند"ج" میخواهد خداوند "ج" عهده دار دفع شر مردم از وي نمي شود.

(ترمذي)

شریعت

اوونیزه

دافغانستان دطالبانو داسلامی تحریك مرکزی نشراتی ارگان

الهي فرمان

او په رښتیا چي له دوي نه مخکي کفارو هم د الهي ادیانو تکذیب کړي و (کله چي هغوي له پوره ماتي سره مخ شول) نو د خداي عذاب څومره سخت ؤ؟

(سوره تبارك)

احمد شاه ((وحدت)) Ahmad Shah (Vahdat) A. E. P. O.

دوهم کال ګڼه پرله پسي (۹۰) | چهارشنبه د ۱۳۷۶ هـ ش کال د تلي دمیاشتي (۱۶) | د ۱۹۹۷ میلادي کال اکتوبر (۸) | د ۱٤۱۷ هـ ق کال د جمادي الثاني (۵)

تذکر خطر ایمان است اگر به این کلمات مقدس بی حرمتی کنید.

آرم و نشانه، صلیب که به عقیده و مذهب خاص (عیسویت) ارتباط میگیرد و مکذب قرآن کریم و متضاد به عقیده امت اسلامي پنداشته میشود، در کشور اسلامي ما غیر مجاز اعلان گردید

خبر نگار هفته نامه شریعت خبر میدهد که: اداره امر به معروف و نهي از منکر دولت اسلامی افغانستان توسط اعلامیه رادیویي خویش از تمام مردم متدین و مسلمان کشور خواسته است که از استعمال و نصب اوراق و پارچه هاي تبلیغاتي، تجارتي و نمایشي که در آن آرم و نشان صلیب و عکس و تصاویر هاي زیروح باشد جداً جلوگیري نمایند.

قابل یاد آوري است آرم و نشانه صلیب که یکي از شعایر بزرگ و تاریخي مذهب عیسویت میباشد و پیروان مذهب تحریف شده عیسوي معتقد اند که حضرت عیسی «ع» صلیب شده (به دار زده شده) «نعوذ بالله» و روي همین عقیده خویش نشانه و رسم صلیب که به شکل علامه + در ریاضي میباشد در نظر اوشان مقدس پنداشته شده و آنرا یکي از شعایر و نشانه هاي بزرگ مذهبي خویش میدانند، در حالیکه این عقیده یعني به صلیب شدن حضرت عیسی «ع» مخالف عقیده امت اسلامي و مکذب صریح قرآنکریم میباشد. طوریکه قرآن کریم در رد این عقیده عیسوي ها چنین ارشاد میفرماید: «و ما قتلوه و ما صلبوه...» یعني «و نه آن را کشته اند و نه آن را به دار آویخته اند...»

و از جانبي دیگر آرم و نشانه صلیب با عقاید و نظریات سایر مذاهب و ادیان آسماني و بشري جهان و گروه هاي غیر مذهبي و غیر دیني هم سازگاري و مطابقت ندارد و یك آرم و نشانه، به خصوص عیسوي ها میباشد که نباید به حیث آرم و سمبول یك مؤسسه جهاني استعمال گردد، زیرا سازمان جهاني ملل متحد و سایر مؤسسات جهاني به همه جامعه بشري و همه پیروان مذاهب و ادیان ارتباط میگیرد نه به کدام مذهب، دین خاص، ملت و قومي، سازمان ملل متحد و سایر مؤسسات بین المللي اداره هاي غیر مذهبي و دیني بوده که به همه ادیان و مذاهب جهان باید احترام قایل باشند و نمیتوانند که به هیچ صورت آرم، نشانه، شعار و عقیده یك مذهب و دین را بالاي پیروان سایر ادیان و مذاهب مستقیم و غیر مستقیم، شعوري و غیر شعوري تحمیل و تطبیق نمایند.

تصمیم دولت اسلامي افغانستان به این ارتباط یك تصمیم کاملاً معقول، قانوني و مطابق شریعت و خواست ملي و منشور ملل متحد میباشد.

د امارت د عالي مقام اعلامیه

په دي وروستیو وختو کي د افغانستان د اسلامي دولت مخالفینو بې بنسټه او له حقیقت نه لیري تبلیغات پیل کړیدي چي ګني د اسلامي اردو مجاهدینو او درنو طالبانو ځیني خلك ځنځي او ماشومان قتل عام کړیدي ددښمن دغه تبلیغات بې ځایه او له حقیقت نه لیري دي هغوي غواړي په دغو زهرجنو او بې بنسټه تبلیغاتو سره د افغانستان د مومن او مجاهد ملت تر منځ تبعیض او نفاق پیدا کړي قتل عام د اسلام د مبین دین له نظره یو ناروا عمل او ممنوع دي هر هغه څوك چي دغه شان عمل تر سره کوي موږ یې په کلکه محکومو او رد وو یې او په مرتکبینو باندي یې بد وایو ځکه د اسلام په مبین دین کي ددغه شان ناروا او غیر اسلامي عملونو تر سره کول مجاز نه دي او هغه مردود بولي.

د اسلامي اردو زړورو ځواکونو د ائتلافي ملیشو پرله پسې بریدونه په شا وتمبول

د اسلامي اردو زړورو ځواکونو د حیرتانو د دوه لاري، بنګي او د تاشقرغان د تنګي په استقامت د مورال بایللو ملیشو څو پرله پسې بریدونه په شا وتمبول

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړي: د اسلامي شریعت مخالفو ځواکونو بایللو ائتلافي ملیشو له ...

طلوع مل

یکتن قاتل، قصاص و به جزاي اعمال خود رسید

یك تن قاتل که یکسال قبل یکتن از هموطنان ما را به قتل رسانده بود قبل از ظهر ۱۲ میزان بعد از اصدار حکم شرعي محاکم قضایی دولت اسلامي افغانستان در محضر عام در شهر لشکر گاه مرکز ولایت هلمند قصاص گردید.

حکم شرعي قصاص بر قاتل توسط محترم مولوي دوست محمد رئیس محاکم قضایي ولایت هلمند در حالیکه محترم ملا عبدالباري احمد والي آن ولایت وعده از مسولین و جمع کثیري از اهالي آنجا حاضر بودند قرائت و تطبیق گردید.

این وظیفه ملل متحد است که در وقت جنگ با ما کوشش صلح و هنگام فقر و تنگدستي کمك مالي نماید

محترم الحاج شیر محمد عباس ستانکزي معین وزارت امور خارجه

ما افغان ها به کمك نیازمند هستیم، نه به زهر!

محترم مولوي رحیم الله وزرمتي معین نشراتي وزارت اطلاعات و کلتور

بعد از این تمام مواد ارتزاقي که به افغانستان وارد میگردد، باید از طرف وزارت صحت عامه تحت معاینه لابراتواري قرار گیرد

از تصامیم اتخاذ شده در جلسه منعقده در دفتر هفته نامه شریعت

مشکل توزیع آرد هاي تاریخ گذشته که در شماره هاي ۸۷-۸۸ و ۸۹ هفته نامه شریعت انعکاس وسیع یافته بود، طي جلسه، مشترکي که به اشتراك برخي از وزرا و اراکین بلند رتبه دولتي عصر روز پنجشنبه دهم میزان، در اداره هفته نامه شریعت تدویر یافته بود مورد بحث و تبادل نظر قرار گرفت.

خبرنگار هفته نامه شریعت گزارش داد: در آغاز جلسه پس از آنکه آیات چند از مصحف پاك تلاوت گردید، محترم الحاج مولوي عبدالرحمن احمد «هوتك» مدیر مسوول هفته نامه «شریعت» ضمن اینکه حضور مهمانان را در آن اداره خوش آمدید گفتند پیرامون پیشنهاد هاي بنیادي ... .

د کونړ ولایت د کلیو د احیا او پراختیا ریاست په چوکاټ کي بیو روغتیایي کلینیك پرانستل شو

د کونړ ولایت د کلیو د احیا او پراختیا د ریاست په چوکاټ کي بیو روغتیایي کلینیك په دي وروستیو وختو کي د بوي غونډي په نرخ کي ددغه ولایت په مرکز کي پرانستل شو او په فعالیت یې پیل وکړ. د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړي: په هغي غونډه کي چي له همدي امله ددغه ولایت په مرکز کي جوړه شوي وه د کونړ ...

طلوع مل

پیاوړي مجاهد ادیب او لیکوال محترم شهرت ننګیال له شریعت اوونیزي سره په مرکه کي:

طالبانو د اسلامي خوځښت مطبوعاتي چاري بختوري او د قدر وړ دي

د ادیب او لیکوال لپاره تر ټولو ارزښتناکه خبره داده چي ویوهیږي یا ځان ویوهوي چي ولس او ټولنه څه شي ته اړتیا لري

شریعت اوونیزه د هیواد د مطبوعاتو په دغه اوسني پړاو کي هغه ټول بار او مسوولیت پخپلو اوږو اخیستي او ددغه بار او مسوولیت په اوچتولو کي سرلوړي او سرخرویه ده

پوښتنه: لطفاً د شریعت اوونیزي لوستونکو ته ځان معرفي کړئ او هم ووایاست چي د جهاد په دوران کي مو څه علمي، کلتوري او فرهنګي خدمتونه کړیدي؟

ځواب: زما نوم شهرت ننګیال د ... امام ابو حنیفه«رح» د مدرسي فارغ التحصیل یم د هجرت او جهاد په اوږدوکي مي په بیلا بیلو فرهنګي او مطبوعاتي ادارو کي خدمت کړي او د «مجاهد» او «جهاد هنداره» جریدي او د «قیام حق» «بصیرت» ...

طلوع مل

د یوي مدرسي او یو روغتیایي کلینیك د بنسټ ډبره د ازري په ولسوالي کي کیښودل شوه

د یوي انه پولکیزي مدرسي او د یو روغتیایي کلینیك د بنسټ ډبره د تلي د میاشتي په دوهمه د یوي غونډي په ترڅ کي د لوګر ولایت د ازري په ولسوالي کي کیښودل شوه.

د باختر د اطلاعاتي آژانس خبریال خبر راکړ، په دغې غونډه کي د کلیو د احیا او پراختیا د عمومي ریاست یو شمیر چارواکو د ازري ولسوال او د سیمي یو شمیر خلکو ګډون کړي وو چي ...

طلوع مل

دو تن از قوماندانان جهادي در ولایت لغمان با ده ها تن از افراد شان به دولت اسلامي پیوستند

دو تن از قوماندانان جهادي در مربوطات ولسوالي دولت شاه ولایت لغمان با ده ها تن از مجاهدین شان به دولت اسلامي افغانستان پیوسته.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد قوماندانان در یك خان علم و امیر جان اخیراً به شمت ...

طلوع مل

محفل مشاعره به پیشواز هفته مخصوص سره میاشت در مقر جمعیت عالي سره میاشت تدویر یافت

محفل مشاعره به پیشواز هفته مخصوص سره میاشت قبل از ظهر مورخ هشت میزان سال جاري در مقر جمعیت عالي افغاني سره میاشت تدویر یافت. در این محفل که با اشتراك تعداد از شاعران ورزیده کشور دایر شده بود ابتدا محترم الحاج مولوي سعید احمد «شفق» رئیس عمومي و سکرتر جنرال سره میاشت طي سخنراني به حاضرین مجلس خوش آمدید گفته ایشان را متوجه مسوولیت هاي شاعرانه شان نموده متعاقباً محترم یوفاند محمد اسحق ...

طلوع مل

د قبایلو د ایجنسیو عالمانو او مشرانو د افغانستان له اسلامي دولت سره خپل ملاتړ او د هیواد د ګڼکني بشپړتیا د تحقق لپاره هر ډول قرباني ته چمتو والي څرګند کړ

د قبایلو د ایجنسیو عالمانو او مشرانو د تلي په دولسمه له غرمي مخکي د هغې جرګي په ترڅ کي چي د سرحدونو چارو وزارت په مقر کي جوړه شوه د افغانستان اسلامي دولت سره خپل ملاتړ او پیوستون اعلان کړ او د افغانستان د ځمکني بشپړتیا د دفاع په لاره کي یې ...

طلوع مل

یک مقدار سلاح و مهمات در ولایات کابل و خوست کشف و بدست آمد

یك مقدار سلاح و مهمات اخیراً توسط موظفین ګمرك ولایت خوست کشف و بدست آمد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد سلاح و مهمات متذکره شامل ۳۰ میل کلاشینکوف، یك میل کله کوف و مقدار ...

س. ع.

په واضح ټکو باید ووایو چي «طالبان» که د چا مادي او اخلاقي مرسته ورسره شته که نه په دي کي شك نشته چي د ولس له منځه راپورته شوي ځواك دي

سهار ورځپانه

سهار ورځپاڼي په خپلې پر له پسې ۳۱۰ د روان کال د تلي د دولسمې ګڼې سرمقاله کي د افغانستان روان حالات څېړلي او د خپلې تبصري په ترڅ کي لیکي: «په واضحو ټکو کي باید ووایو چي «طالبان»، که د چا مادي او اخلاقي مرسته ورسره شته که نه که په بین المللي ډګر استقبال شوي دي که نه په دي کي شك نشته چي د اولس له منځه راپورته شوي ځواك دي. که دا هم ومنو چي له دوي سره په مرستي شوي وي، خو په دي که هیڅوك شك نه لري چي اولسي ملاتړ ورسره نه واي بهرني ملاتړ تر دوي له نورو سره نیل چنده زیات ؤ، د دوي بریاوي د اولس د ملاتړ نتیجه ده او طالبان ...

س. ع.

ملي دفاع وزارت ملیشو ته د ترمیم او د استفادي وړ وګرځید

د ملي دفاع وزارت ملیشو ته په دي وروستیو وختو کي ترمیم او د استفادي وړ وګرځید.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړي دغه ملیشو چي د قدرت غوښتونکو او ماجرا غوښتونکو عناصرو د څو کلونو جګړو په بهیر کي او د ملحد او کمونست رژیم د ... نه پاملرني له امله په کنډواله بدل شوي او په ملیونو ته افغانیو تاوان ورته رسیدلي او په دي وروستیو وختو کي د دفاع وزارت د تعمیراتو د ریاست د انجنیرانو او کارګرانو د هلو ځلو او پاملرني له امله په اساسي توګه ترمیم او د استفادي وړ

طلوع مل

سه تن قمار بازان در ولایت لوګر دستګیر ګردیدند

سه تن قمار بازان اخیراً توسط موظفین استخبارات ولایت لوګر در منطقه کلنګار دستګیر ګردیدند.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد: امیر محمد، صالح محمد و محمد زمان وقتي توسط موظفین استخبارات ولایت لوګر دستګیر شدند که مصروف فعل قمار بازي در منطقه کلنګار بودند.

دوسیه تسیتي قمار بازان جهت غور و بررسي به مراجع ذیربط محول ګردیده است.

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

په ملل متحد کي د معزول دولت نماینده بر حالول !!!

هوښیاران خو لا څه چي کم عقلان هم له دي کړونه په تعجب کي هك حیران پاتي دي چي د رباني او ددهٔ د معزول کړ شوي دولت هیڅ نسه نشته او نمایندهٔ یې د ملګرو ملتونو چارواکو اوسني (۵۲) مه کلني غونډه کي د افغانستان د مسلمان او مجاهد ملت په کرسي کینولي دي !!

حال دا چي د ملل متحد عضویت د افغانستان د ملت د نماینده دولت حق دي او ملت خپل مشروع او بر حال دولت لري چي د دولتي معیارونو لرونکي او د ټول ملت خوښ دولت دي، مګر له دي سره سره د ملل متحد اوسني چارواکي دغه د تعجب وړ کار کوي، له دي نه ډیري پوښتني را پیدا کیږي چي: ولي دغې ټږي والي مؤسسي چارواکي د افغانستان له اسلامي دولت سره عناد کوي؟ ایا له دي امله چي دغه دولت په هیواد کي د ملل متحد، او نړیوالو غوښتني په ځاي کړي چي ناشوني یې ګڼلې، امنیت یې راووست، وسله یې ټوله کړه، د خلکو سر، مال او عزت یې خوندي کړ... ؟

دوهم مخ

خبرتیا

د شریعت اوونیزي اداره په بهر کي میشته و افغان مهاجرو ورونو ته چي په شریعت اوونیزه کي ګډون لري او یا په راتلونکي کي ګډون کوي خبر ورکوي چي: د اشتراك وجه یوازي او یوازي په لاندي جاري بانکي حساب را ولیږي او له نورو لارو نه یې له رالیږلو نه ډډه وکړي.

Account No :
71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar

د افغانستان اسلامي دولت کلك هوډ کړي دي چي هغه ټول شعایر او کړه وړه چي غیر اسلامي وي او د شرعي اصولو او اخلاقو سره سمون نه لري په ملك کي د خداي«ج» په مرسته محوه او نابود کړي

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریك
دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : الحاج مولوي عبد الرحمن احمد «هوتك»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
ډیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ
په پاکستان کې (۲) کلداري
آدرس : کابل وزیر اکبر خان مینه / سرك ۱۱ / کور (۵۲۰)
تیلفون : ۲۱۲۸۱ - توزیع و شکایات ٦۲۸۵۹
پوسټ بکس : (٤۷۱)
په پیښور کې : دطالبانو نمایندګی / تیلفون: ۸٤٤۲۳۱-۸۹۸۱٥۷-۸۱٥٦۲۷
جاري حساب : ٤۰۲۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز

د سرمقالي پاتې برخه

که دا خبره وي نو دا خو ددغه دولت بې ساري شهکاري او لوی کمال دی باید چې د قدر په سترګه ورته وکتل شي، نه داسي چې د بې قدري کړه وړه ورسره وشي!

او که له دې امله په غوسه دي او یقیناً په دغه خبره وي - چې د افغانستان اسلامي دولت په هیواد کې اسلامي شریعت عملي کړی دی په خلکو پنځه وخته لمونځ په جماعت کوي، په نارینه وو باندې ږیرې پریږدي او ښځې یې د شریعت په حکم مستوري کړي دي ، شراب یې له نورو مخدرو پلیتو موادو سره یو ځای منع کړي دي او د کابل د فتحې په وخت کې یې په زرګونو د شرابو بوتلونه مات کړي دي ، تصویرونه او منکرات یې منع کړي دي، ناروا قاتلان قصاص کوي، د غلو لاسونه پرې کوي او زانیان رجم کوي او د اسلامي جهاد غږ پورته کوي او ... .

که د ملل متحد اوسني چارواکي او په دغه موسسه کې اغیزمن جهتونه له دغه امله په غوسه (غصه) وي لکه چې الله تعالی فرمایي : و ما نقموا منهم الا ... - نو دا خو هغه څه دي چې الله تعالی د ټولو کائناتو خالق او مربي د ځمکي د مخ ټول انسانان - ان چې پیریان هم - ددغه پاك شریعت د ټولو احکامو په عملي کولو مکلف کړي دي، که د کفر نړۍ یې نه مني خامخا به سزا وویني، موږ خو مسلمانان یو - الحمد لله - په الله تعالی باندې او د هغه په ټولو احکامو ایمان لرو هغه به عملي کوو که څوك خپه کیږي موږ یې پروا نه لرو !

له دې واړو سره سره د افغانستان اسلامي دولت د ملل متحد د منشور د مشروع اصولو درناوي کوي او ډیر توقعات ورڅخه لري ځکه ددغې موسسې بنسټ د عدالت د تامینولو لپاره ایښودل شوي دی او زموږ د هیواد غیرتوب په دغه موسسه کې اوږده سابقه لري مګر دغه بې عدالتي چې ددغې موسسې اوسني چارواکي یې د افغانستان له مشروع او قانوني اسلامي دولت سره کوي د افغانستان ملت سخته ګیله ورنه لري؛ که دغې بې عدالتي نوره هم ادامه پیدا کوي او د معزول دولت نماینده د افغانستان په کرسي کینولي ساتل کیږي او قانوني دولت په رسمیت نه پیژني نو ددغې نړیوالې موسسې نړۍ وال حیثیت او پرستیږ به غټ درز وخوري او صدمه به ومومي : هیڅوك به بیا د خیر تمه نه ورڅخه کوي او د څو زوروروغړو شخصي کور او د خپلو مقصدونو د توجیه او لاس ته راوړلو وسیله به بې ګڼي .

له میرمن ایما بینینو سره د افغانستان د اسلامي دولت چلند د اسلامي اصولو او د نړیوالو مقرراتو سره پوره سمون لري

د افغانستان د اسلامي دولت او د طالبانو د تحریك هغه برخې کتنه کوو ، کوم چې په بین المللي مقرراتو پورې اړه لري چې دا نړیوال مقررات په لمړي سر کې د اسلامي اصولو سره څومره توافق لري او هم د افغانستان اسلامي دولت د همدغه نړیوالو مقرراتو څومره پابند دی او په دې لړ کې به په لنډ ډول هغه څه وڅیړو چې د تیري دوشنبې په ورځ د بشري چارو لپاره د اروپا کمیشنرې «ایما بونینو» په ارتباط په کابل کې راپورته شوې مسئله ده او دا خبره به سپینه کړو چې د افغانستان اسلامي دولت پدې برخه کې څومره د قانونیت څخه کار اخیستی دی .

د مخه تر دې چې اصلي بحث ته راشو لازمه یې ګڼو چې ووایو الحمد لله د افغانستان د اسلامي دولت د طالبانو تحریك د افغانستان د مسلمانانو په امنیتي او پولیسي دستګاو کې د خارجیانو سره په معامله کې د چرسو، تریاکو او نورو مخدره موادو په تجارت ندي بوخت . او نور اخلاقي ضد اعمال او فاسد قراردادونه چې د اروپا او امریکا او ځینې نورو ملکو ولې او حلك یې له خارجیانو سره لري دا رنګه فسادونه د اسلامي دولت د امنیتي دستګاو او شرو په زړه او ضمیر کې نشته او په خاص اسلامي طهارت خپل ورسپارل شوي وظایف سرته رسوي .

د میرمن ایما بونینو مسافرت کابل ته او هغه څه چې ددې د مسافرت پر وخت پیښ شویدي :

تیره هفته د افغانستان او نړۍ په مطبوعاتو کې دا رنګه یو خبر خپور شو :

میرمن ایما بونینو د بشري چارو لپاره د اروپا کمشنره کابل ته راورسیده دا غواړي چې د اروپا د کمیسیونې د بشري مرستو د هغو برخو څارنه وکړي چې د طالبانو اداري ته یې ورکوي هغه راز میرمن بونینو به د طالبانو د تحریك له رسمي مامورینو سره د بشر د حقوقو، مرستو او کومکونو او هم د ښځو په هکله د طالبانو د اداري سره خبري وکړي .

د میرمن بونینو د هستوګنې په موده کې د انګریز د ملك د بي بي سي راډیو د پښتوژبې په سهارنۍ خپرونه کې چې د تلې د میاشتې په یوولسمه نیټه خپره شوه ددې میرمنې په باب داسي راپور خپور او نشر شو (چې ژباړه یې افغانانو واوریده): « د تیري دوشنبې په ورځ د بشري چارو لپاره د اروپا کمشنره ایما بونینو د افغانستان په مرکز کې ونیوله شوله . میرمن بونینو او د هغې هیئت د محلي خلکو د عکسونو د اخستلو په وجه په کابل کې د دري وساعتو لپاره نیوله شوې وه » د B.B.C خبریال په لندن کې د ایما بونینو سره وکتل او د هغې څخه یې پوښتنه وکړه چې: « ستاسو په نظر د طالبانو قوانینو ته باید د مذهبي چارو په سترګه وکتل شي او که »؟ هغې په جواب کې وویل: « خبره تر دې غټه ده . زه غواړم په ډاګه ووایم چې دلته مسئله د اسلام نده او نه خبره د قرآن او سنت ده . دلته اصلي ستونزه دا ده چې د هغو ټولو افغانانو سره زور زیاتی کیږي چې د پښتنو کلتور او دود نه مني، دلته حالت داسي دی چې ... څوك کې څوك نا وهلی شي .

میرمن بونینو بي بي سي ته وایې چې : « یوه ښځه له دې امله په کابل کې ووهل شوه چې خپل مخ یې لږ لوڅ کړی و او دا ځکه چې نور یې سا بندیده او دغه ښځه یې ووهله کله چې دغه راز شیان سړی ویني نو په ډاګه پوهیږي چې دلته خبره د دین نده دلته خبره تر دې لویه ده او د ډیرو خلکو ژوند یې د ګړاو سره مخامخ کړیدی » د میرمني بونینو څخه پوښتنه وشوه چې : « تاسو پخپله په سترګو ولیدل چې یوه ښځه د څادر د لږ پورته کولو له امله ووهل شوه » ؟ هغې په جواب کې وویل : « ماته ډیرو ښځو اقرار کړی دی، ما د ډیرو ښځو سره په خانګړي توګه وکتل او ماته یې حال ووایه » .

اوس چې موږ او تاسې د میرمن بونینو د مسافرت په هدف هم پوه شو او د هغې پیښي په تفصیل هم وپوهیدو چې په یو اړخیزه توګه پخپله د میرمن بونینو او د انګریز د راډیو د بي بي سي له خولې هم خبر شو چې په کابل کې د میرمن بونینو د مسافرت پر وخت هغې ته څه پیښ شویدي له بده مرغه دا ټکي تر اوسه کفري مطبوعاتو ندي خپور کړي ، چې ولې د افغانستان اسلامي دولت د خپلو اسلامي اصولو په چوکاټ کې د هغو ځینو کارو او اعمالو مخنیوی کوي چې اسلامي او شرعي جواز نلري او میلمانه هم باید د هغه مراعات وکړي پدې ارتباط دا دوه ټکي باید وڅیړل شي چې :

لمړی : افغانستان د یو مستقل اسلامي دولت په حیث په نړیواله ټولنه کې د کال ۱۹۱۹ م راهیسې د بشري ټولني یو قانوني وفادار غړی دی، چې د هغه وخت د دولت څخه نیولی بیا تر اوسه (د افغانستان اسلامي دولت) د ملګرو ملتو د منشور او نورو ټولو نړیوالو اصولو او قراردادونو . پابند او وفادار غړی ملك دی . چې د افغانستان اسلامي دولت او د طالبانو اسلامي تحریك په رسمي توګه د ملګرو ملتونو د اصولو او منشور کامل ملاتړ کړیدی همدا راز د افغانستان د اسلامي دولت له لوري په نړۍ کې د سولې او امنیت او د بشریت د سوکالۍ په لار کې نړیوالو ته ډاډ ورکړ شویدی چې د افغانستان اسلامي دولت د ټولو انسانانو سره په تیره بیا د ګاونډیو هیوادونو سره د سولې او امن او د نیو د ښه حقوقو او سرحدي پولو او د نیك ګاونډیتوب اصول ساتي او پدې لار کې د افغانستان اسلامي دولت خپله وعده پخه ساتلې ده او په نړیواله سطح یو صالح ملك دی .

دوهم : د خارجیانو، ژورنالیستانو او د نړۍ والو راتګ د افغانستان خاوري ته د :

له یوه سره افغانان په خپل اسلامي او افغاني فطرت میلمه پالونکي خلك دي چې دا حقیقت نه یوازې افغانانو [illegible] بلکه په نړۍ کې هم افغانستان ته د نړۍ په ژبه Afghanistan the Land of Hospitality یعني افغانستان د میلمه پالنې خاوره ، په نوم یادوي .

د افغانانو د میلمه پالنې او ښه کوربه توب تر څنګ پخپله د افغانانو سره په محلي او هم په نړیواله سطح یو لړ اصول ، مقررات او کوډونه CODS شته چې زموږ په هیواد کې په مکتوبې او غیر مکتوبې توګه د کور د خاوند او د میلمه حقوق او وجایب تعیینوي، چې پدې برخه کې یوازې د افغانستان د اسلامي دولت د خارجي میلمنو، نړیوالو دوستانو او زیاتره مرسته ورکوونکو موسسو د نمایندګانو او د ډیپلوماتانو سره د سلوك په باب غږیږو : د کال ۱۹٦٥ م ویانا [?] په کنفرانس کې په نړیواله سطح بیلو بیلو ملکو ته د خارجیانو د مسافرت او د دوی د حقوقو او وجایبو په باب غونډې او فیصلې وشوې ، چې په دې نړیوال کنفرانس کې د نړۍ ټولو ملکونو ته د مسافرت او د هغوی تفصیلي اصول بیان او تصویب شویدي چې افغانستان هم ددې نړیوال کنفرانس د ټولو فیصلو امضا کوونکی او د تطبیق وفادار غړی و او اوس هم دی .

ددې نړیوال قانون په اساس څلور ډوله خلك بیلا بیلو ملکو ته په مختلفو پاسپورتو او مختلفو ویزو مسافرتونه کوي چې په لنډ ډول داسي بیان کیداي شي :

۱ - عالي رتبه مامورین او ملکي او نظامي شخصیتونه ، چې دوی ته سیاسي پاسپورتونه او سیاسي ویزې Diplomatic Visa ورکول کیږي ، چې دوی دیپلوماتیك مصئونیت لري او خاصه وضع ورسره کیږي .

۲ - د خدمت پاسپورت : چې [illegible] ته چې دیپلوماتیك مصئونیت نلري ورکول کیږي .

۳ - خاص پاسپورت : چې لوړ رتبه خلکو ته ورکول کیږي او د خاص دیپلوماتیك مصئونیت نه برخمن وي .

٤ - عادي او تجارتي پاسپورتونه چې تجارو او عادي سیاحینو ته ورکول کیږي .

دا رنګه پاسپورتونه ټول د هغه مملکت له لوري صادریږي چې [illegible] په هغه ملك کې ژوند کوي، خو ویزه او مسافرت کوونکي ملك د [illegible] سفارتونو او سیاسي او قونسلي نمایندګیو له لوري ورکول کیږي ، البته د هر راز پاسپورت [illegible] چې پر یوه مخصوصه پاڼه چې هغې ته د ویزې د اخستلو پاڼه Visa Aplication Form وایي چې هر مسافر صرف نظر د هغه له موقف څخه باید پخپله دا ورقه ډکه کړي او هغه مملکت ته چې دا د مسافرت نیت ورته لري، ټول مقررات او خپل حقوق او رعایت ولولي او هغه امضا کړي .

په توګه میرمن ایما بونینو چې طبعاً افغانستان ته په ویزه او قانوني اجازه نامه راغلي ده ددې په ویزه فارم او هم ددې د ملګرو په ویزه فارم کې د افغانستان د اسلامي دولت له لوري خاص مقررات شته چې هغه باید مراعات شوي وای ! په حقیقت کې د هر ملك د ویزې د فورمي ډکول او د هر مسافر سفر د مطلوب هیواد ته هغه قرارداد او رسمي مقاوله ده چې سفر کوونکي او خارجیان یې امضا کوي !

د افغانستان اسلامي دولت او د طالبانو اسلامي تحریك تقریباً اتلس میاشتې مخکې په نړیواله سطح او هم په افغانستان کې دا اعلان او پریکړه کړیده چې [illegible] په افغانستان کې مخصوصاً په هغو سیمو کې چې د طالبانو په لاس کې دي د ژوندي ژویو (حیواناتو) او انسانانو عکسونه څوك نه اخلي چې پدې ټکي د افغانستان د اسلامي دولت ټول تبعه او خارجي ژورنالیستان، ډیپلوماتان او نور سیلانیان هم پوه شوي دي . او د افغانستان اسلامي دولت او د طالبانو اسلامي تحریك د افغانستان په دننه کې د شرعي حجاب او د میرمنو سره د [illegible] په باب اسلامي قوانین جاري کړیدي چې ټوله نړۍ او هر سفر کوونکي یې [illegible] پوره خبر دي .

[illegible] خارجیان چې د [illegible] ملګرو ملتو د غړو او یا د [illegible] ارګانو په شکل افغانستان ته راتلونکي [illegible] وپوهیږي چې په قانوني توګه د افغانستان د اسلامي دولت د ټولو شرعي موضوعه قوانینو تابع دي چې د افغانستان اسلامي دولت د خارجیانو د هر راز سلوك په باب پیش بیني کړیدي .

دا د هر ملك او وطن حق دی چې پخپل ملك کې د ننه د خارجیانو د [illegible] او تر خاصو شرایطو لاندې هر خارجي ته چې هغه هر سیاسي مصئونیت ولري او هر رتبه ولري [illegible] د ساتنې او د خپل ملك په دننه کې د خارجیانو د سرغړونې په صورت کې هغه قانوني تعقیب [illegible] له خپل هیواد نه اخراج کړي !

یادونه : کله نا کله د ډیپلوماتانو په باب د نړیوال سیاسي مصئونیت په اړه [illegible] خاصه سیاسي طریقه شته چې د هیواد سیاسي خلکو او ډیپلوماتانو ته د [illegible] ملك له قوانینو څخه د سرغړونې په صورت کې [illegible] کیږي .

همدا راز د ملګرو ملتو د مختلفو موسسو لپاره هم خاص پاسپورتونه شته چې په هر صورت کې مستقل ملکونه او نظامونه حق لري چې پر هر خارجي باندې د خپلو قوانینو تطبیق عملي کاندي او د خپل وطني اصول محترم وګڼي .

اوس نو که میرمن ایما بونینو او یا هر بل څوك تر هرې کلیشې لاندې د افغانستان خاوري او یا د افغانستان د اسلامي دولت او د طالبانو د اسلامي تحریك تر سلطې لاندې ساحې ته را ورځي د نړیوال قانون او هم د افغانستان د موضوعه قوانینو په چوکاټ کې (چې اوس له نیکه مرغه د افغانستان داخلي او خارجي قوانین ټول اسلامي دي) د هغو قوانینو او شرایطو کلکه پابندي وکړي، چې اصول یې مخکې د افغانستان اسلامي دولت اعلان کړي دي .

د مثال په توګه : د چرسو او تریاکو [illegible] د افغانستان اسلامي دولت قانوناً منع کړیدي او خارجیان (په هره سطح چې وي) د هغو د تطبیق مسئول دي !

که چیرې کوم خارجي لدې مقرراتو څخه سرغړونه کوي د نړیوالو قوانینو په حکم او د افغانستان د اسلامي دولت د موضوعه قوانینو په حکم دا یو قانوني جرم دی او باید له قانون [illegible] سره سم جزا ورکړل شي !

هیله ده خارجیان او محترم میلمانه چې د افغانستان د اسلامي دولت او خاوري څخه لیدنه کوي ، دا فکر ونکړي چې لدوی سره به د دوی د رسمي موقف او یا مرستي کوونکي موسسې په حیث د افغانستان اسلامي دولت خپل اسلامي اصول او منل شوي مصالح او انساني نړیوال اصول تر پښو لاندې کړي . که چیرې داسي وکړي د دوی دا کار د اصولو او پرنسیپونو په مقابل کې سوداګري او استثنا ګرایي ده ، چې د افغانستان د اسلامي دولت د اسلامي اصولو سره نه ځایږي .

د افغانستان اسلامي دولت او د طالبانو اسلامي تحریك د اسلامي اصولو په چوکاټ کې د نړیوالو قوانینو پوره مراعات کړي او کوي یې او پدې لار کې ثابت قدم دی خو دا چې له بده مرغه د میرمن ایما بونینو سره ولې د افغانستان د اسلامي دولت د اسلامي اصولو خلاف عمل کاوه ، او [illegible] د یوې خوا د افغانستان د اسلامي دولت خارجه وزارت ددې میلمني میرمني پر [illegible] احساساتو باندې زړه سوی کړی دی او د عالیقدر محترم امیر المؤمنین د [illegible] په اساس، هغه خلك چې د افغانستان د اسلامي دولت په حریم کې یې زموږ د قوانینو خلاف کار کاوه د عفو [illegible] وګڼل شول ! [illegible] په افغانستان کې اصلي مسئله [illegible] د اسلام او د دین نده او د افغانستان مسئله کلتوري [illegible] او قومي ریښې لري، [illegible] دا حق [illegible] چې د افغانستان په دننه کې د اسلامي اصولو تفسیر په خپله خوښه او مغرضانه توګه وکړي .

[illegible] په لمړي سر کې میرمن ایما بونینو په اسلامي اصولو ناپوهه ده او په دوهم سر کې ددې خبرو [illegible] چې د افغانستان اسلامي دولت هغه په کلکه ردوي ځکه د افغانستان اسلامي دولت اسلامي او شرعي احکام د لوی خدای د رضا لپاره جاري ساتي او د هغه په تطبیق کې د عالیقدر محترم امیر المؤمنین د ارشاداتو سره سم [illegible] ته ضرورت نلري .

د شریعت تبصره

همگوني هر چه بیشتر موضعگیریها و رؤیا هاي سردمداران روسیه و ایران

اینك افغانستان به مشیت الهي در جاده هاي روشن زندگي بسوي آینده تابناك ره مي پیماید، مداخله گران جنایت کار نیز از عینك هاي خود به این سمت و این مستقبل روشن نگاه میکنند. روسیه و رژیم هاي وابسته به آن همانند رژیم تهران، تاجکستان و هند که با سراسیمه گي تلاش میورزند آینده تابناك کشور ما را مکدر جلوه دهند . اوشان نیات پلید و سیاهي دارند، ورنه راه به سوي این آینده روشن است و بي هیچ اشکالي میتوانند آنرا به وضوح مشاهده نمایند .

برخورد هاي خصمانه اقوام یك دولت نیرومند و یکپارچه اسلامي ، جنگ افزار با عناصر کاملاً بیگانه با منافع اسلامي، ملي و تمامیت ارضي، برخورد غیر واقعبینانه و دور از حسن نیت نسبت بمواضع سالم و صلحجویانه دولت اسلامي افغانستان گواه است که روس ها در هماهنگي کامل با ایرانیها و شرکا ، میخواهند با ارسال محموله هاي مرگ و مصیبت ، دید و بازدید هاي علني و مخفي رجال بلند پایه نظامي و سیاسي و اظهارات غیر مسؤولانه و کاملاً مداخله گرانه ي خود میخواهند که آینده تابناك و آرزو هاي ملت فدا کار ما را با خاك یکسان بسازند .

در همین راستا علاو الدین بروجردي نماینده ویژه ! وزارت خارجه رژیم مزدور تهران براي افغانستان در باره انکشافات اخیر در شمال کشور (پیروزیهاي شگرف و درخشان مجاهدین اردوي اسلامي) با لحن وقیحانه و مملو از تناقضات اظهار داشته است که « تهران در زمینه تأمین صلح در افغانستان کوشش هاي مستمر داشته !! و آمدن رشید دوستم به مزار میتواند مبارزه جبهه ملي و اسلامي ! براي نجات افغانستان ! را علیه دشمنان افغانستان استحکام و انسجام بخشد ... » و در اخیر با پر رویي منحصر بخود شان علاوه میکند که « فقط حل معضله افغانستان و استقرار صلح در این کشور تنها دو راه میتواند داشته باشد ! اولاً قطع مداخله خارجي... و ثانیاً سهیم ساختن تمامي قشر ها و اقوام، در قدرت (!!) » حقیقتاً که این جسارت گستاخانه ي یك مقام رسمي رژیم تهران، هر انسان داراي عقل سلیم را به تعجب وامیدارد مشار الیه از یکطرف میگوید مداخله خارجي باید متوقف شود و کدام رژیمي بالاي افغانها تحمیل نگردد و بعد با لکنت زبان میگوید آمدن رشید دوستم میتواند مبارزه ائتلاف مخالف طالبان را بمقابل دشمنان افغانها استحکام و انسجام بخشد ... زهي شعور باطل ، هر چند بدینگونه بروجردي میخواهد آن انسجام و استحکام ایدیال خودش را در بین جبهه نجات !! که اکنون به یك مجتمع نفاق مبدل گردیده است بوجود آورد ولي علي الرغم آن، افتراق ها و انقطابهـا دامنه دارد که حاصل زر اندوزیها حریصانه گماشته هاي شان است منتج به رسواییهاي شد که اکنون جهانیان به روي امثال بروجردیها و باتورین ها میخندند ، مگر این آقاي بظاهر دیپلومات نمیداند که رژیم متبوعش با چنین اظهارات سفیهانه و همگوني کامل موضعگیریهایش با دولت روسیه و هند عملاً این حق را که باید سرنوشت افغانها دریعه خود شان تعین شود از افغانها سلب مینماید و بدین ترتیب در امور داخلي یك کشور داراي استقلال و حاکمیت ملي مرتکب زشت ترین و غیر انساني ترین مداخلات میگردد و به تائید و حمایت گروه ها حکومت و مردم مي بر آمده اند که عمده ترین عامل انهدام هست و بود ملت نجیب و مؤمن افغان بودند و هستند . شگفت انگیز تر اینکه بعد از مدتها روضه خواني آخوند هاي ایران مبني بر عدم دنباله روي از قدرت هاي طاغوتي و استعمارگر و دفاع از داعیه ي نامنهاد مستضعفین جهان، عملاً روس هاي جنایتکار را از خون پاك صد ها هزار شهید مسلمان افغان تبرئه نمودند که این خود چنین مینمایاند که پیروان خط رهبري امام ! بطور ناگهاني بدین امر ملتفت شده اند که دشمني شان با روس ها اشتباه محض بوده و در حقیقت دوست را بجاي دشمن گرفته بودند ، پس حالا بایستي دشمن روس ها (ملت مجاهد افغان را) دشمن بدانند .

همگوني موضعگیریها سردمداران بد سگال روسیه، ایران، تاجکستان و هند و تسلیمدهي راکت هاي دور برد نوع «لونا» بعد از سفر پوري باتورین مشاور نظامي بوریس یلتسن به اندیوال گماشته و بدنام شان (مسعود) ، کمك در راه بر قراري روابط ننگین آقاي مسعود و دولت نامنهاد رباني با رژیم صهیونیستي اسرائیل ، اعزام مجدد مهره ابرو باخته دیگر شان «دوستم» و اظهارات مداخله گرانه علاو الدین بروجردي ... نیات شوم این حلقات مداخله گر و افغان دشمن را بوضاحت در قبال سرنوشت ملت مسلمان افغان هویدا میسازد این براي نخستین بار نیست که حلقات جنایتکار دول متذکره در مقابل ارمان ها و خواست هاي ملت مجاهد ما صف آرایي مینمایند مردم ما سالهاست که طعم تلخ جنگ تحمیلي آنها را مي چشند و این کشور ها طي تقریباً دو دهه ، موضعگیري و عملکرد هاي بهتر از این نداشته اند .

در این خصوص دقت و تأمل روي موضعگیري هاي گذشته و کنوني زمامداران بي بصیرت رژیم تهران با درنظرداشت مدارك تاریخي به اثبات میرساند که حکام غرق در منجلاب فساد وعصبیت ها ... بطور پیگیر ملعبه اي دست قدرتهاي استعماري بوده و سیاست ارتجاعي این کشور رنگ هر طرفي را اختیار نموده است ، زیرا همین اکنون نیز نقطه نظرات اغلب سیاسیون و شخصیت هاي فرهنگي روسیه و ایران در قبال افغانستان یك نوع همگوني خاص بخود اختیار نموده است .

چنگیز پهلوان که یکتن از همین قماش افراد میباشد از جمله متعصب ترین نویسنده هاي این کشور بحساب میاید با سفاهت تمام در ماهنامه «کلك» مینگارد « ... افغانستان فعلي نیاز دارد به یك ساختار ملي تازه (!!) و در کنار این ساختار ملي تازه میتوان انواعي از حکومات ایالتي را سامان داد ...!!» و این درست همان خواب مالیخولیایي است که روس ها مدتها قبل براي افغانها و افغانستان دیده اند و بیجا نبود که چند وقت قبل یکتن از اعضاي گروهاي بدنام و خائن وحدت بنام استاد محقق عین کلمات را طوطي وار از طریق رادیو بي بي سي عرضه نمود .

حقیقت اینست که چنین وحدت نگري و همگوني سیاست هاي زمامداران ایراني براي روس ها از اهمیت ویژه اي برخوردار است حالا این به همگان مبرهن و هویدا گردیده است که روس ها و ایرانیها متفقاً اعزام خود را مبني بر تجزیه افغانستان به چند پارچه مجزا و بر پایي آن بر نحوه حکومات به اصطلاح ایالتي پنهان نمیکنند زیرا روس ها ، رژیم تهران را مناسب ترین حربه اي میدانند که با توسل به آن گویا قادر خواهند شد که به امیال شوم و رویا هاي دیرینه شان دست یابند با توجه به مهارت هاییکه زمامداران خود باخته رژیم تهران در تفرقه افگني بین مسلمانها و سایر خصایل قبیحه ي که دارند آنها وسیله اي بحساب میآیند که روس ها با در خلعت گرفتن آن رویا هاي خویش را تحقق یافته میپندارند و چون روس ها اینك دریافته اند که حرص و آز رژیم تهران براي تأمین منافع نا مشروع شان بحدي بود که از تائید رژیم کمونستي کابل نیز باك و ننگ نداشتند پس جا دارد که روس ها ، زمامداران بد اندیش جمهوري اسلامي ایران !! را برادران صمیمي خود بدانند .

دولت مردان روسیه ، هند و ایران باید این حقیقت عیني و انکار ناپذیر را بخاطر داشته باشند که افغانهاي مسلمان ، مجاهد و شجاع ، تاریخ ، سرنوشت و آینده مشترك دارند و این را نیز بدانند که ، [illegible] اقوام مسلمان افغانستان با هم متحد بوده و هستند و خواهند بود .

د ګوربت ځاله

محمد عارف تسل سیبوه وال

اي زما سمسور وطنه! ځار شم ستا له غرو رغونه
د غیرت ورمي چلیږي ستا له سکلو سردرونه
لوي تاریخي د افغان یې هر بخري دي جرأت دي
هر یو غر او هر یو لر دي لوي شاهد د عظمت دي
تا په غیره کي روزلي د تاریخ قهرمانان دي
په زانګو کي دي ورکړي لوست د ننګ او لوړ همت دي
ستا بیرغ دي وي سر لوړي تل تر تله له پردونه
د غیرت ورمي چلیږي ستا له سکلو سردرونه
قره تره، هره سمڅه دي مورچل د امتحان دي
هره پیغله هر ځلمي دي بس ملاله، ایوب خان دي
هره مور او هره نیا دي زرغونه او یا نازو ده
هر یو زوی او هر یو ورور دي ځاریدونه په ارمان دي
اي زما د غیرت خاوري ویاړه، ویاړه دي بچونه
د غیرت ورمي چلیږي ستا له سکلو سردرونه
موږ ته هر څه نه خوږي دي ستا کرکې او ممالي
که پیرګي دي که ګور ګوري، که خون دي پالې پالي
په څنګلو کي دي زمري دي په کندونو کي بازونه
کوزي مستي، مستي زرکي، پاس دي لیکي لیکي زاڼي
د پردو ګلشن دي ځارشي ستا خورو ورو ډاګونه
د غیرت ورمي چلیږي ستا له سکلو سردرونه
که آمو که دي هلمند دي، ارغنداب دي هم شنیري
د کابل لیوني سیند دي په سینه کي نه ځانیري
هریرود که دي مرغاب دي په کوکچه کي دي هم سره دي
د کونړ خړي ساماړ دي له مستي، نه ایساریري
قره سیمه دي نازیږي له لرغوني خاطرونه
د غیرت ورمي چلیږي ستا له سکلو سردرونه
که پامیر که هندوکش دي، که تیرېند د ترکستان دي
فیروز، پارو پامیزاد دي جوړ د غیري ګلستان دي
د با با په هسکه څوکه دي تبشي د خپلواکي دي
په ختیځ کي دي سپین غر او په سهیل کي سلیمان دي
بوي راځي د تودو وینو د میوند له سنګرونه
د غیرت ورمي چلیږي ستا له سکلو سردرونه
ستا ساتنه فریضه ده نه زموږ ننګ او حیاېي
نه یادګار د لوي میرویس او د محمود او احمد شاه یې
تا روزلي خپله غیږه کي اتل د هر ډګر دي
نه زموږ پت او عزت یې، نه زموږ په تن کي ساه یې
سیبوه وال تسل لوګي شه ستا له دښتو او میرونه
د غیرت ورمي چلیږي ستا له سکلو سردرونه

د سپیدو زیری

قاري فضل الدین «سراجي»

ارمغان په هر لور د سمون راغي
نوي ساز نوي راز د ژوندون راغي
ترورمو کي د وخت تیندګونه زموږ
پاکو خاورو کړه سکل قدمونه زموږ
په تعقیب مو د پل صباوون راغي
شوي په مخه د ظلم او ستم سلسلي
د فساد د دوستم ګیلم جم سلسلي
خدایه شکر دي څه نه بدلون راغي
وه تالان د کارغانو په هر باغ، بڼ
په رمو کي وه جوړ د لیوانو اتڼ
ورته بیا د شپیلي سره شپون راغي
د قرآن رهبري چه ارمان ستا و
عدالت عمري چه ارمان ستا و
«سراجي» نن هماغه قانون راغي

مروارید های ناب

ارسالي احمد شاه «وحدت»

۱ - هزار گفته کم است و یك عمل بسیار.
۲- در نا امیدي هم بسي امید هاست.
۳- نخل ما چون خشك شده بر میدهد .
٤- هر شکست دو پیروزي دارد .
۵- دوست همه کس دوست هیچکس نیست .
٦- دشمن خونخوار را کوتاه به احسان سازد دست
۷- کسیکه از دور روزگار نیاموخت از هیچ آموزگار نخواهد آموخت .
۸- اگر نمي خواهي محتاج باشي پابند کار باش
۹ - گذشت خصلت مردان است .
۱۰- لذتي که در عفو است در انتقام نیست .
۱۱- بیشترین سرمایه قناعت است .
۱۲- نیم نان راحت جان .
۱۳- سفیدي کفن را دیده بي سیاهي گور را نه
۱٤- خداوند «ج» با صابران است .
۱۵- با والدین چنان باش که از اولادت توقع داري
۱٦- عمر ظالم کوتاه است .

د ادب مرغلري

د زړګي سر شهید

د قاري جلالزي شهید په یاد

[illegible] انقلابي

لاړي شهید شوي د تاریخ د زړګي سر شهیده
نه تول جهان ته یې روښانه لکه لمر شهیده
ستا شجاعت او قناعت راته حریت نصیب کي
ستا حقانیت او دي غیرت راته عزت نصیب کي
دا ستا میړانه، ننګیالتوب و دلاور شهیده
دا ستا که قطعه شول لاسونه د وطن په ننګ کي
که دي د سترګو کسي پریوتل مېهن په ننګ کي
د ظالمانو زړونه تاکړلو کسکر شهیده
د ستا د وینو برکت به نور مزار آزاد کړي
د وینو رنګ به دي بامیان بلخ او تخار آزاد کړي
د شیرغان ګلم جم تښتي بختور شهیده
د شهیدانو د غیرت کارنامي خوند راکوي
د دوي سپیځلي روح دي موږ ته چي نن ژوند راکوي
انقلابي اوسکو رخسار مي کړ پر هر شهیده

شهید

سید عبدالرقیب جهید

اي شهید راه حق فرخنده بخت و نیکنام
پاسدار شرع اسلام سنت خیر الأنام
روح پاکت تا به علیین به پرواز آمده
مرحبا گویان به استقبال ملائك مستدام
بر گزیدي سنگر توحید و قرآن مجید
مقتضاي علم دین کردي عمل حسن ختام
مدرسه ، تدریس و مسجد ترك گفتي الجهاد
واژه، ایثار آموختي به سنگر صبح و شام
کافیه، شرح ملا ، مرقات و مشکوة شریف
صرف و نحوه یکسره بگذاشتي ، عالي مرام
سر بکف اندر نبرد في سبیل الله سهیم
طالب مرضاي حق خفته بخون اي خوش خرام
جان شیرین را نثار شرع سبحان کرده یي
درس قرباني و ایثارت بما آمد پیام
از شکوه مظهر والا مقامت رقیام
مشکبار اندام خون افشان تو در هر مشام
تاج عزت بر سرت یاقوت مبارك شاهد است
رزق و نعمت هاي جنت خالداً دارالمقام
شمه ئ از امتیازات شهیدان کرام
[illegible] شمردم بر امید آنکه نوشم همچو جام

د سیاف او رباني د شخصیت حقیقت او د افغان مجاهد ولس په وړاندي د هغوي کړه وړه د حزب اسلامي د مرکزي ارګان "شهادت" په هنداره کي

لیك : ح . م

د رباني او سیاف ناندري

رباني
سور له امان [illegible] هم په غرونو کي [illegible] ورووره
هر څوك [illegible] دي د تزویر او چالاکي څني
[illegible] دي د مکر د [illegible]
[illegible] شرارت کي دي شیطان ورووره

خداي دي ما او تانه کاندا خلاص افغانستان ورووره
ویري دي پیدا کړي د غریبو بوټ پاکي څني
بي له [illegible] ، تاروا او ګمراهي څني
خداي دي ما او تانه کاندي خلاص افغانستان ورووره

سیاف
ځان له دي وګوره چي راګیر یې [illegible] کي
نه یو لوي [illegible] یې په یې دینه پرچمیانو کي
[illegible] دیوارګه یې [illegible] ورووره

ویر زیات محشر یې په ملحدو شعله بانو کي
خداي ده چي لا څه یې د بغتل په [illegible] کي
خداي دي ما او تانه کاندي خلاص افغانستان ورووره

رباني
[illegible]
خداي که [illegible] ورووره

[illegible]
